# Contribution of Pashtun Progressive Poets in Freedom Movement of Vietnam

Asal Marjan Muhib Wazir [1]

**Abstract**: This article illustrates the thoughts and involvement of Pashtun progressive poets in the Vietnamese freeedom movement. Their struggles are shown from two perspectives; firstly for freedom of their own land and resources, and secondly in a global prospective. We show that these poets have shown high tributes to Veitnamese freedom fighters, and also expressed that this is the way of modern nationlism.

**Keywords**: Vietnam, Freedom Movement, Nationalism

د ویت نام یا د نورو قامونو د ازادۍ مبارزې په رڼا کښې چې مونږ د پښتو په جدیده شاعرۍ خبره کوو ، نو دا به هم ګورو چې په شلمه پېړۍ کښې په عالمي کچه کوم داسې واقعات او ستونزې رامخته شوې دي چې پښتو ادب کښې ئې ځاے موندلے دے ـ

د پښتو د نوې شاعرۍ په اوله نیمايي کښې د علم او په خاصه توګه خبرتیا د کمي له کبله د نړیوالو واقعاتو څۀ خاص ذکر په نظر نۀ راځي ، ولې د کله راسې چې د پښتو د نوي شعر بانیان د تعلیم او تربیت سره اشنا شول او د اخبار ، رسالې/مجلې ، کتاب ، ریډیو یا د ټیلي ویژن د خبرونو او نورو وسیلو له امله د نړۍ په واقعاتو او ستونزو خبر شول ، نو د هغو ټولو واقعاتو په حقله ئې خپل رد عمل هم ښکاره کړے دے ـ شاعري ئې کړې ده او خپل غږ ئې ورسره یو کړے دے ـ

د پښتو د شلمې پېړۍ شاعري یا مجموعي ادب د ویت نام ، الجزایر ، فلسطین ، کشمیر او نورو قامونو /اولسونو مبارزه په خپله لمن کښې خوندي کړې ده ـ قلندر مومند د همېش خلیل شعري ټولګه "زما سندرې" په دیباچه کښې لیکي:

> د جدیدې زمانې قومي شعور د ټولې دنیا د مظلومو قومونو او پرزېدلو اولسونو سره د مشترک درد په بنیاد ولاړ دے ـ د شلمې صدۍ د پښتو ادب او شاعري د دې قومي شعور نه ډکه ده. [1, p6]

[1] Pashtunkhwa Study Center, Bacha Khan University, Charsadda, Pakistan

ویت نام د اسیایي ملکونو کښې یو هغه بهادر ملک او وطن دے چې د هن چې منهـ په قیادت کښې د خپلې ازادۍ د پاره یو ځل راپورته شول ، نو تر هغې په قلاره نه شول چې ترڅو ئې خپل وطن ، ملک یا سیمه ته ازادي ترلاسه کړې نه وه ـ ویت نام د خپلې ازادۍ جنګ د ۱۹۴۵ء د دویم نړیوال جنګ سره راشروع کړے دے او په مزه مزه ئې د جنګ ته دوام ورکړے وو ـ ولې په سرکاري ډول دا جنګ د ۱۹۵۴ نه تر ۱۹۷۳ء پورې ګټل کیږي ـ په دغه دوران کښې ټوله سرمایه دارانه نړۍ د ویت نام د ازادۍ د جنګ په مخالفت کښې ودریدله او بل خوا د ویت نام اولس ، د سوویټ یونین فوځي او مالي کومک او د ګړدې نړۍ د ازادي خوښو اولسونو ، نظریاتي شاعرانو ، ادیبانو او دانشورانو مرسته وه چې اختتام ئې دا شو چې د سرمائې خاوندانو ماتې وخوړه او ویت نامي اولس ګټه ترلاسه کړه . پښتو ادب کښې د ویت نامي اولس دغه غیرت او حریت ته د خراج تحسین د وړاندې کولو په لړ کښې یو شمیر شاعرانو نظمونه لیکلي دي ـ

قلندر مومند د پښتو هغه ویښ او بااحساسه شاعر دے چې د پښتون وطن هره وړه ستونزه ئې د شاعرۍ موضوع ګرځولې ده ، ولې د نړۍ د موضوعاتو نه ئې سترګې نۀ دي پټې کړې ـ په ویت نام چې بمونه وریدل ، عین په دغه وخت د قلندر مومند نه مور د هغه د وادۀ غوښتنه کوي . خو قلندر مومند خپلې خوږې مور ته وائي چې ستا خو به د نږور په لیدو سینه سړه شي ، ولې زۀ څه وکړم چې ترڅو په نړۍ کښې خوار و زار او ځپلي اسویلي او افکي وباسي ، تر هغې به دا وادۀ ما خوشحاله نۀ کړي:

چې په ویت نام کښې مزدوران چغه کړي
دلته به ما نه "الا" نۀ هېروي
چې د کوریا شونډې مرۍ مرۍ شي
دلته به ما نه خندا نۀ هېروي
د "کوجي کېمپ" درنې بېړۍ به مانه
د چا د پیلو شرنګا نۀ هېروي [p6 ,2]

قلندر مومند وایي چې د چا د پایلو د شرنګا په بدل د ویت نام مزدوران څنګه هېر کړم ، د کوجي کېمپ هغه درنې بېړۍ چې د ازادۍ علمبردار او د مزدورانو قیادت کونکیو په پښو کښې شرنګا کوي . په داسې صورت کښې زۀ وادۀ ته څنګه غاړه کښېږدم ـ

قلندر مومند "د ویت نام چاربېته" په نوم یوه چاربېته وئیلې ده . قلندر مومند ډیر استاذ شاعر دے او د استاذانو کردار ئې هم لوبولے دے ـ هغه که یو خوا د چاربېتې روایت د تازه کولو هڅه کړې ده ، بل خوا ئې چاربېتې د پاره هم د چاربېتې موضوع راوړې ده . دغه چاربېته کښې قلندر صېب د سامراجیانو د ظلمونو نه پړده هم پورته کړې ده او مظلومانو او مزدورانو ډاډګیرنه

ئې هم پکښې کړې ده:

ځومره بمونه دي وربړي د ويت نام په نام
مرګے دے ګام په ګام
مړۀ شو بې غوره
ځومره بمونه دي وربړي په سبا بېګا
په چا؟ په ما او تا
مئيندې بوربړي
د ټول وطن ځنې رخصت شولو امان ارمان
ډېر شولو زيان
خوئيندې ژړېږي
په سرو سرو تورو د زلمو پرې ډکرې
په وينو سرې اسرې
جونه سوزېږي
کړي اپيلونه د دنيا د هر يو قام په نام
مرګے دے ګام په ګام
مړۀ شو بې غوره
کړي اپيلونه د دنيا هر يو محکوم مظلوم
د سامراج شوم په نوم
ظلمونه پرېږده
د افريقې له منځه پورته شولو شور په زور
خوربړي لور په لور
غوږ ورته کېږده
ويښه ايشيا او لاطيني امريکه وار په وار
شولو يلغار تيار

سامراجه ربړده
اوس به ستومانه شي که خبر وي انکل سام په لام
مرګے دے ګام په ګام
مړۀ شو بې غوره [2, p113-114]

دغه چاربېتې هغه ټول تاریخ رقم کړے دے چې د ویت نام په زمکه تېر شوے دے او د ویت نام اولس پکښې قربانۍ ورکړي دي او دلته چې قلندر صېب کومه پېش ګوی کړې ده چې نور به انکل سام ستړے شي ، نو نړۍ ولیدل چې انکل سام واقعي ستړے شو او د ویت نام اولس دغه مبارزه وګټله ـ
قلندرمومند یو بل نظم "د عالمي ضمیر په نوم" کښې دا خبره په یو بل انداز کړې ده ـ دلته ئې د هغو ټولو قامونو او اولسونو ته دا پېغور کړے دے چې کله په تاسو سخته وه ، نو مونږ درسره کلک ولاړ وو . هغۀ د نړۍ ټولو سترو مبارزو ته اشاره کړې ده چې پښتانۀ شاعران ادیبان او نظریاتي ملګري ورسره په مرسته ټینګ وو ، مګر نن چې په پښتنو سخته راغلې ده ، نو ټولو د خاموشۍ څادر په ځان خور کړے دے :

هر کله هر ځاے چې انسان ته خطره پېښه ده
د سرېتوب د احترام هغه سنګر کښې زۀ وم
د حریت په نوم چې هر چرته بېرغ جګ شوے
که ورته وګورې ترې لاندې ئې لښکر کښې زۀ وم [3, p72]

دغه دعوا ډېره بې ځایه هم نۀ ده ، بلکې پښتني اولس په هر ځاے د مظلوم اولس مرسته په ځان فرض ګڼلې ده . تاریخ د داسې واقعاتو نه ډک دے چې پښتون د چا چا سره د تورې ، ټوپک او قلم مرسته نۀ ده کړې ـ
همېش خلیل د عالمي سامراج د ناکړدو نه ځان مدام خبر ساتلے دے او د دغه ناکړو په ضد ئې د خپل ضمیر اواز ښۀ په نره نړۍ ته ور رسولے هم دے ـ د ویت نام جنګ یو نظریاتي جنګ وو ـ د نړۍ ټول اولس ئې سره تقسیم کړے وو ـ هغه اولسونه چې د سرمائې د خاوندانو ملګري وو ، د ویت نام ضد د سامراج ملګري وو او هغه قوتونه چې د سرمائې په ضد ئې د خواري کښو مبارزې ته سم وئیل ، د ویت نام د مبارزینو په حمایت کښې اوازونه پورته کول او نظمونه ئې لیکل ـ همېش خلیل هم لکه چې د هغوي د شاعرۍ نه مونږ ته اندازه کېږي چې د سرمائې د خاوندانو ضد په قلمي او عملي مبارزه کښې شامل وو ـ د ویت نام د حریت پسندو په نوم ئې خپل اواز داسې اوچت کړے دے:

ماته په خپل وطن د پېښو نه فرصت نشته دے

چې د خپل نظم په تاریخ کښې ستاسو ذکر وکړم
اورم چې تاسو په سرو وینو فیصله لیکلې
چې د خپل ژوند سره به نور دغه ناکام ونهٔ کړئ
چې مو وطن د بل له زوره ازاد کړے نهٔ وي
نو تر هغې به عن تر مرګه خپل ارام ونهٔ کړئ

د دغه دور د لوے طاقت سره جنګونه کوئ
د خپل مقصد ، د خپل مرام او د ویت نام د پاره
قلم قلم شوئ په میدان کښې خو شکست نهٔ منئ
د خپلې خاورې د تقدیس او احترام د پاره
د ازادئ د نوبهار د یو شفق په خاطر
تاسو د دار په افق ټولو خپل سرونه کښېښول
د ویت نامیانو د ځلانده مستقبل د پاره
منم! په لاره مو د وینو چراغونه کښېښول
ما ته په خپل وطن د پیښو نه فرصت نشته دے
چې د خپل نظم په تاریخ کښې ستاسو ذکر وکړم [1, p4-5]

خو د نظم په تاریخ کښې ئې دوي په ډېر اصل شکل کښې محفوظ کړي دي ـ د خپل وطن د خواریو و زاریو نه ئې هم مخ نهٔ دے اړولے او د ویت نام د اولس هغه سختئ ئې هم په یاد ساتلې دي ـ د دوي په مبارزه کښې ئې هم په ذهني توګه ځان ورګډ کړے دے . د هغو حریت پسندو د وینې هره قطره ئې ستائیلې ده او د ویت نام د خاورې او اولس د نوي راتلونکي د پاره ئې یو زېرے ګڼلے دے -

د دغه نظریاتي جنګ په ترخ کښې عبدالرحیم مجذوب هم د چا نه وروستو نهٔ دے . دا یوه قافله ده چې د وطن د پاره ئې د حریت سندرې وئیلې ، نو ئې په ځان دا لازم ګڼله چې په هر قیمت د نړۍ د نورو مظلومو او محکومو حریت پسندۍ ته هم خراج وړاندې کړي او ډاډ ورکړي . "ویت نام ته مې سلام دے " نظم کښې د هغو حریت پسندو مبارزه څهٔ دارنګې ستائي :

چې غبرګ ئې په تومن تلے دے ویت نام دے

چې زور د زورورو ئې زغملے دے ویت نام دے
د حق د پاره سر ئې چې شیندلے دے ویت نام دے
پښتو چې پرې تمامه ده ، غېرت چې پرې تمام دے
ویت نام ته مې سلام دے

نعره د اناالحق ئې د زده کړې له منصوره
ټوټې ټوټې به شي د استعمار په تېره توره
خبره به ناحقه د غلیم نۀ کړي منظوره
غازي د خپل وطن دے دا شهید د ژوندي قام دے
ویت نام ته مې سلام دے

ویت نام ځلنده ستورے خار د سترګو د ظلمت دے
پښتو ده قرباني ده ، پخته عزم دے جرأت دے
ویت نام کښې مونږ د پاره غټ مثال د شجاعت دے
یوه چغه د غېرت ده ، د خودئ ښکلے پیغام دے
ویت نام ته مې سلام دے [4, p45]

مجذوب په یو غږ دوه کاره کوي ، یو خوا د ویت نام د اولسونو او رهبرانو حوصلې ستائي ، د هغوي سترې سینې ستائي او د هغوي په زمکه کېدونکي ظلمتونه یادوي . بل خوا ته د ویت نام حوصله ، عظمت او جرأت د پښتنو د پاره یو مثال وړاندې کوي او په بین السطور کښې هغه پښتون اولس د خپلې خاورې او خپل قام د غوښتنو د پاره تیاروي او یوه ستره مبارزه ته ئې هڅوي .

عاصي هشنغري د یو انقلابي او په خاوره او اولس مئین شاعر په حېث د نورو قامونو د سیاسي او خپلواکۍ مبارزې ته ډېر په درنه سترګه کتلي دي . هر حساس انسان ته چې خپل ځان ، خپل قام ، خپل اولس او خپله خاوره ورباندې ډېره ګرانه وي ، نو ځکه ورته نور اولسونه او قامونه هم خواږۀ وي او درانۀ وي . څنګه چې ورته د خپلو حریت پسندو مبارزه او سختئ او ظلمونه محسوسېدل ، دارنګې عاصي هشنغري او نورو په وطن مئینو خلقو ته د ویت نام یا د نړۍ د نورو قامونو د خپلواکۍ جنګ او حریت خپل ښکارېدو ـ بله خبره دا هم ده چې دارنګې

نظرياتي خلقو ته انسان مقدم وي ـ د انسان حقوق چې چرته هم غصب کېږي ، نو دوي ورباندې سم ترسېږي او خوږېږي . "ډاډګېرنه" نظم کښې د ويت نام د تورزنانو په نوم داسې پېغام ور استوي ـ د دغه اوږد نظم تش دوه بندونه رانقل کوم:

د ازغو منځ کښې ګلونو! خندېدونکو بهارونو!
اې د وينې ورکونکو! روڼ د مينې سحرونو!
د غېرت وينه تودېږي په جوټو کښې د دارونو
تورو شپو سره بلدو! مستقبل له مشالونو!
اې د ظلم زغم لرونکو! مانړېژن له ظلمتونو
د ستم زبونه شپو کښې څو ډيوو د امېدونو
لېونو! د قام د مينې په شرنګا د زنځيرونو
د ويت نام خوږو ملګرو! د غېرت نه ډک بخرو!
غوږ شئ کوم جرس غږېږي زولنې ستاسو کړنکېږي
جام د ظلم نسکورېږي ړنا کېږي ړنا کېږي
دا چې توپې تل ډزېږي دا ټېنکونه چې غرېږي
له بمونو اور ورېږي په ګولو زړونه درزېږي
هر زلمے چې قربانېږي بوډاګان ورته ګډېږي
خوږې مئيندې چې نازېږي په زامنو را غوړېږي
يو ذره نۀ خفه کېږي خوشحالېږي خوشحالېږي
ويت نامي پېغله رادؤ کړي شهيدانو ته خندېږي
ورو په غوږ کښې ورته وايي دا وطن به ازادېږي
د حالاتو په تورتم کښې ستاسو وينې به بلېږي
د ويت نام د ننګ اولسه! د مرګ کومي کښې سحر وي
له مرام غافله مه شئ هر محشر پسې اختر وي
د تيارو مزے به شلېږي سبا کېږي سبا کېږي [5, 22-p21]

داسې ګرم او د جذبو نه ډک پیغامونه د پښتنو شاعرانو د ویت نام سر شندونکیو ته ور استول او د خپل وطن د ازادۍ د پاره ئې نور او نور ګړندي کول . په دغه نظم کښې عاصي هشنغري د ویت نام د محکوم اولس په ضد قوتونه او د سرمائې خاوندان یو په یو یاد کړے دے او د دوي ړنګېدل او ماتې خوړل ئې د مقدر فیصله ګڼلې ده .

یو بل نظم "ډالۍ" ئې د ویت نام حریت پسندو مشر او راهنما هنوچي منهـ ته لیکلے دے . دا هغه وخت وۀ چې د دوي په مشرۍ کښې د ویت نام اولس امریکه او اتحادیانو ته ماتې ورکړه او د ویت نام اولس د خپلو قربانو په بدل کښې یو ازاد هېواد څښتنان شول . په دغه زمانه کښې هنوچي منهـ دا فیصله وکړه چې دوي به د ویت نام د شهیدانو په یاد کښې یو طویل نظم لیکي . دا خبر چې عاصي هشنغري په اخبار کښې ولوستو ، نو بیا ئې هنوچي منهـ ته د ډالۍ په شکل کښې دغه نظم وړاندې کړو:

لویه انسانه! په خپل قام مئینه! د وینو رود کښې په مرام مئینه!
د سرېتوب په لوړ مقام مئینه! اې په عزت او ننګ و نام مئینه!
د مزدورانو په ارام مئینه! په ننګیالانو د ویت نام مئینه!
واخله د روه د یو پښتونه سلام
د انسانانو د مجنونه سلام
د ویت نامي خوئیندو عصمت په خاطر د کنډو میندو د عظمت په خاطر
او د پلارانو د شفقت په خاطر د ځواني مرګو د حسرت په خاطر
د ازادۍ د پتنګانو پۀ نوم د پاکې وینې د عزت په خاطر
د روهستان د یو مزدور شاعر په خپل وطن کښې د مجبور شاعر
د خوږ احساس نه څو قطرې د مینې یو تقدس او یو پیغام د مینې
څو رڼې اوښکې د سپرلو په خاطر او د انسان د سوکالو په خاطر
دا نښانې زما د مینې ډالۍ د دړدېدلې زړۀ د وینې ډالۍ
بس ستا عظمت او ستا پښتو ته لوګے
دا دې ننګیالو مېړنو ته لوګے [5, p51-53]

دا په اصل کښې د ویت نام د فتح د یو جشن په توګه لیکلے شوے نظم دے ـ یو طرف ته ستر رهبر هنوچي منهـ ته خراج وړاندې کوي ، نو بل خوا د مبارزې په دوران کښې د شهیدانو وینه هم ستایي او د شهیدانو پلارانو ، میندو او خوئیندو ته هم سلام پېش کوي . دا نظمونه څومره د

جذبو نه ډک وئيلي شوي دي ـ د عاصي هشنغري يا نورو نظرياتي شاعران چې باچاخان يا نورو خپلو راهنمايانو ته کوم نظمونه ليکلي دي ، د هغې جوش او جذبه په هيڅ صورت د دغه نظم نه سېوا نهٔ ده - دا خبره مونږ ته دا حقيقت په ګوته کوي چې د دغو شاعرانو نظرياتي وابستګي د ويت نام د خلقو او رهبرانو سره هم دومره ده ، څومره چې ئې د خپلو خلقو او راهبرانو سره ده ـ پښتنو شاعرانو د عالمګيريت حق ادا کړے دے ـ عاصي هشنغري په خپله شاعرئ کښې نور هم ځائے په ځائے د ويت نام ذکر کړے دے ـ کله چې هم د حريت خبره کوي ، نو د ويت نام جوش او جذبه او غېرت ئې په ياد ساتلے دے:

سره زمکه د مصر شام سور په وينو سور ويت نام
وايي چې تک سور سلام بيا په توريالو د قام
مست دے هر يو ځوان شي
مست دے هر يو ځوان شي [5, p111]

ډاکټر اعظم اعظم که هر څو د قامي مبارزې نه په عملي توګه يوې خواته په ډېره ناست ليدهٔ شي ، ولې په نړيوالو سرګرميو ئې مکمل نظر شته او د هغې څهٔ نه څهٔ ردِعمل ئې په شاعرئ کښې هم ليدهٔ شي ـ د ويت نام په زمکه چې کله اور وکرلے شو ، نو هلته بېلابېلو مرضونو سر راپورته کړو ـ د دغه مرضونو وهونکيو تصويرونه به اخبارونو کښې راتلل . اعظم صېب هم د يو داسې تصوير په ليدو دا اوږد نظم ليکلے دے :

هر طرف ته يو وحشت دے شور او چغې دي افت دے
مزکه اور دے ، ژوند دوزخ دے زندګي ده که قيامت دے
ودانې چرته کښې نشته يا لمبې دي يا ايرې دي
او د مزکې نه روانې د سرو وينو فوارې دي
هر خوا ګرګې او لاشونه په ډېرو ډېرو پراتهٔ دي
انسانان ترې نه بوږنېږي تېپوسان ترې نه ماړهٔ دي

ګړزهار دے د توپونو او غړمبار دے د بمونو
دا څهٔ حشر دے جوړ کړے د بې کوره وخت نبضونو
په دې شور په دې غوغا کښې يو تور سرې په نارو کښې

افتـونـو رانیـولـې حـادثـو سـره تـرغـاړه
جل وهلې د حالاتـو د اجل خلـه کښـې ولاړه

اف دا کوم تنکے ځیګر دے چې لړزیږي ټول ړچیږي
لکه ګل پاڼو کښې غـونډ شي د مـور غیږ کښې راټولیږي

دا ماشوم کله لیدے شي چې ژوند دومره لوے خونکار دے
دا معصوم کله زغمے شي چې انسان دومره مکار دے

دې میدان کښې بدبوي دي د ظلمـونـو فـریبـونـو
دې میدان کښې درک نـشته د ښائست د نګهتـونـو
دا میدان د هـر برلاسي د بې درده زړهٔ تصـویر دے
دا میدان د هـر بې وسه د بې وسه ژوند تقدیر دے [6, p295]

دا یو طویل نظم دے چې مونږ ترې نه څهٔ برخه را نقل کړه ـ په ویت نام کښې د امریکې او د اتحادیانو د ظلم او بربریت دومره ژوره او شدیده عکاسي بل پښتون شاعر نهٔ ده کړې ، څومره چې اعظم صبب په پوره تفصیل سره هغه ظلمونه یاد کړي دي او د ژوند بېلا بېل اړخونه ئې راښائیلي دي چې د دغه جنګ نه متاثره شوي دي ـ زنانه ، ماشومان ، بوډاګان ، ونې بوټي ، غرونه او رغونه ، میدانونه او چمنونه ، سیندونه دریابونه ، زمکه او خاوره ، دا هر څهٔ ئې دومره په شدت سره ښئیلي دي ، لکه شاعر چې د ویت نام په زمکه ولاړ وي او دا هر څهٔ ئې په خپلو سترګو لیدلي وي . خو اعظم د یو حساسه او تجربه کار شاعر په حېث هغه هر څهٔ د ذهن او جذبو په زور محسوس کړي دي او بیا ئې په پوره فني ایمانداري سره بیان کړي دي ـ

رحمت شاه سایل چې هم د خپل وطن د ازادۍ او خپلواکۍ په مبارزه کښې په هراول دسته کښې ولاړ پاتې شوے دے ـ د ویت نام د ازادۍ جنګ کونکیو سره ئې هم ذهني او فکري ارتباط لرلے او ساتلے دے ـ د سایل ژبه او لهجه ښځي د داسې مبارزې کونکیو د ډاډ او حوصلې او ستائینې د پاره جوړه شوې ده ـ سایل چرته هم په داسې موقعو د غفلت مظاهره نهٔ ده کړې ـ چرته چې وینه تویه شوې ده ، چرته چې په کوم مظلوم او محکوم لاس پورته شوے ، نو سایل ئې غندنه کړې ده او د ظلم په خلاف د مبارزه کونکیو ئې مدام ستائینه کړې ده . "زېرے" نومې نظم ئې په هغه شپه لیکلے دے ، په کومه شپه چې د نړۍ د رېډیوګانو نه د ویت نام د ازادۍ اعلانونه خپرېدل :

لمبو او د بارودو او ګولو په دندوکار کښې
د شلم د سور بټ په ترقهار او پر قهار کښې
باران کښې د سیکې او د بمونو په ناتار کښې
د توپو د جهازونو درزهار او غوزهار کښې
خو: ویت نام د خپل تقدیر په جوړولو کښې کامیاب شو
د ګرمو ګرمو سرو وینو تودو تودو لوګو کښې
د خوئیندو او میندو خوږ زړونو په قطرو کښې
د خپلو وینو ښنبو د تریخ ژوندون په کټورو کښې
د وروو او د ترو ماشومانو په سلګو کښې
خو: ویت نام د خپل تقدیر په جوړولو کښې کامیاب شو
اباد اباد ښارونه کنډرونه شو ویجاړ شو
د مینې خوارۀ کلي شو بتکي بتکي لتاړ شو
کورونه شو جارو د انسانانو نه او شاړ شو
په ډېر اوږد لوے جنګ کښې انسانان وو چې کاړکاړ شو
خو: ویت نام د خپل تقدیر په جوړولو کښې کامیاب شو [7, p57]

دا نظم که هر څومره د ظلم او جبر داستانونه او تفسیرونه بیانوي ، خو په اصل کښې د خوشحالۍ زېرے دے او د ګړدې نړۍ په ازادي خوښو قوتونو هم یو زېرے دے چې د سامراج زور په ختمېدو دے او سامراجي قوتونه نور د خلقو او اولسونو په خاورو او زمکو په زور او زیاتي د قبضې برقرار ساتلو جوګه نۀ دے پاتې شوے -
د ویت نام د ازادۍ او حریت پسندۍ په اړه د پښتو په نوې شاعرۍ کښې نورې هم ډېرې نمونې په لاس راتلے شي - خو مونږ دلته د نماینده شاعرانو څو نمونې وړاندې کړې چې هغه څرګندونې ترې وشي چې دا لوے تاریخ ته د پښتو شاعرانو په کوم رنګ او انداز کتلي دي او څرنګې ئې محسوسه کړے دے -

## Bibliography

[1] Hamesh Khalil, Zama Sandaray (My Songs), Preface Qalandar Momand, Dal-ul Tasneef, 1973

[2] Qalandar Momand, Sabawoon, 2nd Edition, Peshawar, 1988

[3] Qalandar Momand, In the Name of the Universal Conscience (poem), Jaras, January 2001/March 2002

[4] Abdul Rahim Majzoob, Kuliyat Majzoob, Vol 1, Bannu, Parmakhtag, 2013

[5] Aasi Hashangari, Hot Blood, Peshawar, University Publishers

[6] Mohammad Azam Azam, Janon ao Zawandon, University Publishers, Peshawar, 2008

[7] Rehmat Shah Sayel, Da Weer pa Cham ke War da Naghmo de, (5th Edition), Danish Kutabkhana, Peshawar, November, 1998